# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۹ د چنگاښ لسمه | د ۲۰۲۰ د جون دیرشمه | ۵۵۹مه گڼه


# وحشتناک تاوتریخوالی او ملکي مرگ ژوبله؛

## د سولې له هڅو سره هممهاله په هلمند کې چاودنو د ۲۳ ملکیانو ژوند واخیست



۳

### د سنگین وحشیانه برید او له ولس سره له دښمنۍ ډک زړونه

۲ مخ

### د افغانستان اوبه او د گاونډیانو اندېښنې

۲ مخ


### د سولې تګنۍ پروسه؛ کورني او بهرني عوامل

۳ مخ

## خپره

۴ مخ

### میرزا غالب



میرزا غالب د فارسي او اردو ژبې نوموتی شاعر تېر شوی، خو هغه وخت لا زیات ومنل او وپېژندل شو چې کله یې له دې دنیا د تل لپاره خدای پاماني وکړه.

## کرنې ریاست: په لوگر د نږدې ۱۲۲ میلیونو افغانیو په ارزښت ۲۲۶ پروژې پلې کېږي



د لوگر د کرنې ریاست چارواکي وايي، چې په دغه ولایت کې د بڼوالۍ څنځیري ارزښت د پراختیا د ۲۲۶ پروژو تړونونه لاسلیک شوي دي.

د لوگر ولایت د کرنې رییس عبدالله تسل وايي، چې د دې هوکړې پر بنسټ، د بڼوالۍ د څنځیري ارزښت د ودې او د بزگرانو د اقتصادي ودې په پار، د لوگر ولایت د مرکز په گډون د دغه ولایت د محمدآغې، څرخ او خوشي په ولسوالیو کې د ۱۲۱ میلیونه او ۹۰۰ زره او ۱۴۳ افغانیو په ارزښت ۲۲۶ پروژې پلي کېږي، چې پکې د پیازو او کچالو صفر انرژۍ زېرمتونونه او ممیزخونې جوړول او د مېوو او سبو د وچولو ماشینونه شامل دي.

تسل ویلي، چې د یادو پروژو له لارې د لوگر ولایت په مرکز او د دغه ولایت په محمدآغې، څرخ او خوشي ولسوالیو کې د کچالو ۷۹ صفر انرژۍ سړې خونې، د پیازو۹۱ صفر انرژۍ سړې خونې او ۲۸ ممیزخونې جوړېږي.

## وکیلان:

## دوه تابیعته نوماند وزیرانو ته رایه نه ورکوو

په ولسي جرگه کې د دوه تابیعته لرونکو وزیرانو موضوع یو ځل بیا گرمه شوې ده. په دغه جرگه کې د خلکو لسگونو استازو پر هغه متن لاسلیکونه کړي دي چې پکې راغلي، دوه تابیعته لرونکو نوماند وزیرانو ته به د اساسي قانون په رڼا کې د اعتماد رایې ور نه کړي. په دغه لیک کې راغلي، چې په تېرو نولس کلونو کې په افغانستان کې تر ټولو جنجالي مسئله همدا د دوه تابعیته لرونکو وزیرانو او لویو رییسانو وه چې په افغانستان کې یې له خپل قانوني خوندیتابه څخه په گټه اخیستنې فساد کړی او د خپل ماموریت تر پوره کېدو وروسته د افغانستان د مظلوم او بېچاره ولس له سرمایې سره بېرته له هېواده وتلي دي. سرچینه کاږي، همدا لامل دی چې د هېواد عدلي او قضایي اداري محکمو ته د هغو کسانو په راستنولو نه دي بریالي شوي چې په پراخ فساد کې لاس لري. د سرچینې په خبره، دوی به هغو نوماند وزیرانو ته رایې ورکړي چې خپلې مورنۍ خاورې او هېوادوالو ته د خدمت په خاطر له دویم تابعیت څخه تېرېږي.

د وکیلانو دا څرگندونې داسې مهال دي چې کابینې د ځینو نوماند وزیرانو په تړاو په ټولنیزو رسنیو کې بحثونه راپارېدلي او خلک نیوکه کوي چې دا ډول کسانو ته دې د باور رایه نه ورکول کېږي او ولسمشر باید د دوه تابعیت لرونکو پرځای کابینې ته خپل افغان او ژمن کسان ور معرفي کړي.

## افغان حکومت باید داسې شرایط وضع نه کړي چې د سولې بهیر له خنډونو سره مخ شي





۵ مخ

## وزارت معادن: طرحی برای جلوگیری از استخراج غیر قانونی معادن تهیه می‌شود



وزارت معادن و پترولیم افغانستان می گوید طرحی روی دست دارد که براساس آن از استخراج غیرقانونی معادن در مناطق زیر کنترل گروه طالبان جلوگیری خواهد شد.

عبدالقدیر مطفی، سخنگوی این وزارت به رادیو آزادی گفته است: «وزارت معادن و پترولیم افغانستان اکنون روی طرحی کار می‌کند تا بزرگان قومی منطقه را در این پروسه دخیل سازند تا آنان برای جلوگیری از استخراج غیرقانونی معادن همکاری کنند این طرح به زودی آماده می‌شود.»

مقام‌هایی این وزارت می گویند از استخراج غیرقانونی معادن در مناطق زیر کنترل حکومت با کمک بزرگان قومی جلوگیری شده است. این در حالی است که رئیس جمهورغنی در جلسه کابینه از نهادهای امنیتی و دفاعی خواست که برای جلوگیری از استخراج غیرقانونی معادن طرحی جامع تهیه کنند. دفتر ریاست جمهوری در خبرنامه‌ای نوشته که در این جلسه بر همکاری بزرگان و افراد با نفوذ محلی در موفقیت این طرح تأکید شد.

اگرچه موارد تازه در رباره استخراج غیرقانونی معادن در ماه‌های پسین پخش نشده، اما دیدبان شفافیت افغانستان می‌گوید در گزارش مؤسسه «گلوبل ویتنس» که سال گذشته پخش شد، گفته شده بود که طالبان و گروه داعش از استخراج غیرقانونی معادن سالانه حدود سه صد میلیون دالر به دست می‌آورند.

با این همه، بربنیاد برخی گزارش‌ها دولت افغانستان هر سال از استخراج معادن حدود ۶۰ میلیون دالر درآمد دارد.


Aksos Book Store

اکسوس کتابپلورنځی

کتاب مو د ژوند ملگری کړئ



Aksos

کابل دریمه ناحیه، دجمهوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

aksosbookstore@gmail.com

## دریـــځ

### د سنگین وحشیانه برید او له ولس سره له دښمنۍ ډک زړونه

د هلمند پـه سـنگین ولسوالۍ کې پـر دودیزه مېلـه توغندویز بریـد شـوی، چـې ۲۳ کسـان یـې وژلي او لسگونه نـور یـې ټپیان کـړي دي. حکومت دا کار د طالبانـو گڼـي، خـو طالبـان دا د امنیتـي ځواکونـو د هـاوان بریـد گڼـي. سـیمه ییـز خلـک وایـي چـې نـه پوهېـږي برید چـا کـړی، خـو پـه سـیمه کـې نـه طالبـان او نه هـم حکومتـي کسـان وو. په ټولنیزو رسـنیو کې د بریـد خپـاره شـوي تصویرونـه ښـیي چـې څه ډول انسـانان ټوټـه شـوي او خلک پـه وینو سره دي.

دا پـه واقعـي مانـا یـو وحشـیانه بریـد و، چـې پکـې پـه قصـدي او شـعوري ډول ملکـي وگـړي پـه نښـه شـوي دي. د یـوه او بـل ملامتولو خبره کـه پرېـږدو، څـوک چـې پـر خـدای بـاور ولـري، په انسـان او افغان یـې زړه درد وکـړي، دغه ډول وحشـت نـه شي کولـی. دا ډول پېښـې ښـیي چـې پـه جگـړه کـې څومـره وحشـي، ظالم او د افغـان انسـان دښـمن خلـک شـته. دا سـمه ده چـې ښـایي ملکـي خلـک ثابـت نـه شي کړلـی چـې قاتـل یـې څـوک دی، خو وحشـي انسـانان بـه لـه خـدای تعالـی سره مـخ کېـږي او بیـا بـه هلتـه د پټولـو هېـڅ تـوان ونـه لري.

برید پـه داسـې حـال کـې شـوی چـې د امریکا او طالبانـو ترمنـځ سـوله شـوې او ژر بایـد بیـن الافغانـي خبـرې پیـل شـي. د بیـن الافغانـي خبـرو موخـه واضـح ده، د افغانانـو وینـې بایـد خونـدي شـي، طالب، امنیتي ځواکونه او ملکي وگـړي ټـول افغانـان دي. د بیـن الافغاني خبرو او سـولې موخـه همدا ده چـې دا ټول امن شي او افغـان انسـان باعزته شـي. مـوږ دغه حالت ته روان یـو، چـې یـو بل ته امن ورکـړو، یو بل ومنو، پـر گـډو ټکو توافق وکـړو. کـه د جگړې پـه دواړو لـورو کـې سر له اوسـه همدا احسـاس پیدا شي چې مقابل اړخ یې ورور دی، سـبا ورسره خبرې کـوي، توافـق کـوي، یـو بـل تـه امـن ورکـوي او گـډ راتلونکـی جـوړوو، نـو باید سر له اوسـه باید دښـمني او جگـړه ودروو. زمـوږ زړونـه باید یو بل تـه لـه دومـره کرکـې ډک نـه وي، مـوږ بایـد لـه خپلـو زړونو کرکې وباسـو او سر له اوسـه باید یو بل تـه لاسـونه ورکـړو.

دا سـمه ده چـې ځینـي بریدونـه بـه مبهـم وي، خـو هر څوک چې د سـولې پر وړانـدې خنډونه جـوړوي، خلـک پوهېـږي چـې هغـوی دا ډول بریدونـه هـم کولـی شي. د بندیانـو پـه خوشـې کولـو کـې خنـډ پـه واضـح ډول د سـولې پـر وړانـدې خنـډ جـوړول دي. کـه حکومت رښـتیا سـوله غـواړي، نـور بایـد پلمـې بنـدې کـړي او پاتـې زندانیـان خوشـې کـړي. لـه بلـه اړخـه جگـړه، وژنـې او بریدونه په واضح ډول د سـولې پـر وړاندې خنډ جـوړول دي. طالبان چې سـبا سـوله کـوي، خـو سر له ننـه دې پر خپـل افغان ورور رحـم وکـړي، جگړه دې ودروي او د سـولې پـه اړه دې ذهنیتونـه او باورونـه نـه خرابـوي.

کـه څـوک لـه خپلـو خلکـو سره مینـه لـري، پـر خپـل ولـس رحم کـوي، د افغانیت او اسـلامیت ادعـا کـوي، نـو پـکار ده چـې پـه عمل کـې یې ثابـت کـړي. پـه عمـل کـې یـې ثابتول د سـولې پـر وړانـدې د خنډونـو پـه لـرې کولـو، پـر خپـل ورور پـه رحـم کولو، انعطـاف او د سـولې په لاره کـې پـه قربانـۍ کـې څرگندیږي.

# د افغانستان اوبه او د گاونډیانو اندېښنې

لیکوال: عبدالرشید نایل

**اوومه برخه:**

دا چې افغانستان د اوږدو جگړو او بې‌ثباتیو له کبله د اوبو په گډون د ډېرو سکتورونو د پراختیا او پرمختیا فرصت نه دی موندلی، اوسمهال کله چې په دې برخه کې گام پورته کېږي، د اوبو د حوزې د لاندینیو هېوادونو اندېښنې راپاروي او هغوی د تېر په څېر د ورتلونکو اوبو تمه لري. افغانستان د خپلو نورو گاونډیانو په پرتله لږ پرمختللی هېواد دی او د اوبو په برخه کې انکشافي کارونو ته جدي اړتیا لري. له بلې خوا دا باور چې هر هېواد کړلی شي، په تېر کې د ترلاسه کړو اوبو تمه په راتلونکي کې هم ولري، په نړیوالو قوانینو کې رد شوی دی. په دې تړاو د ۱۹۹۲ او ۱۹۹۷ کلونو کنوانسیونونه حل‌لارې وړاندې کوي، لکه له گډو اوبو منصفانه او معقوله گټه اخیستنه او داسې نور. د دې ترڅنگ، دا چې د کابل سیند په حوزه کې پراختیایي کارونه تر ډېره د برېښنا د تولید لپاره دي او د ځمکو خړوبولو ورټیا پکې کمه ده، پر لاندېنۍ برخه یې اغېزې هم کمې دي.

**د افغانستان او پاکستان د اوبو د وېش مسئله**

له بده مرغه افغانستان او پاکستان تراوسه د کابل حوزې د اوبو په تړاو هېڅ ډول هوکړه یا کوم تړون نه لري. په دې تړاو یوازېنی هوکړه‌لیک په ۱۹۲۱ کال کې د افغانستان او برېتانیا ترمنځ دی، چې اوبو ته ډېره کمه اشاره پکې شوې ده. په دې معاهده کې برېتانیا هوکړه کړې، چې افغانستان کولی شي د تورخم د اوسېدونکو لپاره د یوې لولې له لارې اوبه واخلي او په مقابل کې افغانستان هوکړه کړې، چې برېتانیایي مامورین او له ډیورنډ کرښې هاخوا قبایل کولی شي له کابل سیند څخه د کښتۍ چلولو او اوبو لگونې لپاره کار واخلي.

له ۲۰۰۱ کال راوروسته که څه هم افغانستان او پاکستان د اوبو په تړاو د تړون لاسلیک کولو هڅه کړې؛ خو تراوسه په دې کار بریالي شوي نه دي. په ۲۰۰۳ کال کې د اوبو د وېش تړون لپاره د یوې ۹ کسیزې گډې تخنیکي کمېټې هڅې د بې‌باوریو او اوسني وضعیت په اړه دقیقو معلوماتو د نشتون له کبله له ماتې سره مخ شوې. په ۲۰۰۶ کال کې نړیوال بانک هم یو ځل بیا د دواړو هېوادونو د هڅولو هڅه وکړه، خو پایله یې نه لرله. په ۲۰۱۳ کال کې کله چې پخواني ولسمشر حامد کرزي او لومړي وزیر نوازشریف د برېښنا د تولید لپاره د کونړ سیند د پراختیا د هڅو په تړاو یو هوکړه‌لیک لاسلیک کړ، تر یوه بریده په دې برخه کې پرمختگ ولیدل شو؛ خو د دغه توافق جزئیات هم پټ پاتې شول.

**د اوبو په تړاو د خبرو اترو پر وړاندې خنډونه**

د دواړو هېوادونو ترمنځ خرابې اړیکې او اوږدې بې‌باورۍ د اوبو په تړاو د همکاریو په لاره کې یو اساسي خنډ دی. دا بې‌باورۍ له څلورو مشخصو ډگرونو خړوبېږي (له هند سره د افغانستان اړیکې، د ډیورنډ قضیه، د پښتونستان قضیه، له طالبانو د ملاتړ قضیه).

د اوبو نړیوال څېړونکي په دې اند دي، چې د اوبو په تړاو خبرو اترو او له گاونډیو هېوادونو سره د یوه منصفانه تړون د لاسلیک کولو لپاره په اړوندو افغان ارگانونو کې ورتیا کمه ده، چې یو اساسي لامل یې د اوبو د قضیې او په تېره بیا له نورو هېوادونو سره د گډو اوبو د مسائلو په تړاو د تخنیکي پوهې کموالی دی. د دې ترڅنگ د یوې سروې له مخې، د افغانستان د اوبو په سکتور کې ډېری کسان د اړیکو پر بنسټ گومارل شوي، نه د زده کړو او تجربو له مخې. که څه هم له نورو هېوادونو سره د گډو اوبو د قضیې لپاره د ۲۰۱۶ کال په مې میاشت کې بین الوزارتي کمیسیون هم جوړ شو، خو تراوسه یې هېڅ کومه رسمي غونډه نه ده لرلې. خو په بل اړخ کې پاکستان بیا د اوبو په سکتور کې د تخنیکي پوهانو او کدرونو له پلوه یو بډای هېواد دی. پاکستان له هند سره په ۱۹۶۰ کال کې د سند سترې حوزې د اوبو په تړاو یو هوکړه‌لیک لاسلیک کړی او د گډو اوبو د وېش په برخه کې ښه ورتیا او تجربه لري.

د اوبو په برخه کې د څېړنو جدي کمښت او له نورو هېوادونو سره د گډو اوبو په تړاو د کافي معلوماتو نشتون هم هغه ستونزه ده، چې په دې تړاو یې خبرې اترې له ننگونو سره مخ کړې دي. په ځینو مواردو کې د اوبو او انرژۍ او کرنې وزارتونو او د چاپېریال ساتنې د ملي اداري عین معلومات یا خو تناقض لري او یا هم نژدې ۵۰ سلنه متفاوت دي. له همدې کبله دقیق او د کارېدنې وړ معتبر معلومات، له پاکستان سره د اوبو په اړه د خبرو اترو لپاره خورا زیات اهمیت لري. په بل اړخ کې پاکستان که څه هم د کابل سیند حوزې په اړه کافي معلومات لري؛ خو د دوه‌اړخیزو همکاریو د کمزورې وضعیت له کبله یې له افغان لوري سره نه شریکوي.

د دې ترڅنگ له گاونډیو هېوادونو سره د گډو اوبو د مسئلې په اړه عامه پوهاوی هم په نشت حساب دی. عام ذهنیت اوسمهال دا دی، چې په افغانستان کې یا له افغانستان بهر ته بهېدونکې هر څاڅکی اوبه د افغانستان ملکیت دی. په دې تړاو عامه پوهاوی په ملي کچه د حکومت له‌خوا د تصمیم نیولو لپاره د عامو خلکو ملاتړ ته اړتیا لري، کوم څه چې د عامه پوهاوي په نشتون کې په سم ډول نه شي ترلاسه کېدای. دا ستونزه هومره جدي ده، چې پخوانی لومړی وزیر محمد موسی شفیق د هلمند سیند د اوبو په تړاو د تړون له لاسلیک کولو کابو یو کال وروسته لومړی ونیول شو او بیا یو کال وروسته د کمونیستانو له لوري د «اوبه خرڅوونکي» تر نوم لاندې په څرخي پله زندان کې ترور شو.

په لنډو ټکو کې د دواړو هېوادونو د گډو اوبو په تړاو د افغان لوري داخلي ننگونې، په افغانستان کې د متخصص کدر نشتون، ناکافي سازماني ظرفیت، بې‌باوره معلومات، امنیتي ستونزې، د اوبو د نړیوالو قوانینو یا گډو اوبو په اړه د عامه پوهاوي نشتون، بودیجوي ستونزې، د سطحي او تر ځمکې لاندې اوبو د کیفیت ستونزه (په تېره بیا په کابل کې)، د اوبو په سکتور کې د ښې حکومتولۍ نشتون دي. همدا راز د کابل حوزې د اوبو په تړاو بهرنۍ ننگونې، د پاکستان او افغانستان ترمنځ بې‌باوري او د همکاریو نشتون، د نفوس زیاتوالی (په تېره بیا ښارونو کې)، اقلیمي بدلونونه او داسې نور دي.

**پر گډو اوبو د خبرو اترو او هوکړې لپاره شته فرصتونه**

د پورتنیو ستونزو او خنډونو ترڅنگ، ځینې داسې فرصتونه هم شته چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اوبو د ستونزې له هوارې سره مرسته کوي:

لومړی: د گډو اوبو پر قضیه د کار لپاره د افغانستان د حکومت اوسنۍ سیاسي اراده او ژمنه د دواړو هېوادونو لپاره، په تېره بیا د خبرو اترو د پیل او یوه توافق ته د رسېدو لپاره، ښه فرصت گڼل کېږي.

دویم: د نړیوالې ټولنې توجه او لېوالتیا، په ځانگړې توگه نړیوال بانک د کابل حوزې په تړاو د افغانستان او پاکستان ترمنځ د همکارۍ او خبرو اترو سره د مرستې لېوالتیا ښودلې او په دې حوزه کې یې ځینې څېړنې هم کړې دي.

درېیم: غیر رسمي څېړنې هم هغه فرصت دی، چې په دې تړاو د معلوماتو او عامه پوهې له زیاتوالي سره مرسته کوي، هغه هم داسې مهال چې په دې برخه کې د معلوماتو کمښت په تېره بیا افغان لوري کې یوه مهمه ستونزه بلل کېږي.

څلورم: د نړیوال بانک د څېړنې له مخې، د کابل سیند حوزې په لوړه برخه (افغانستان) کې پانگونه او پراختیایي کارونه به پر پاکستان ډېرې لږ اغېزې ولري؛ ځکه په دې حوزه کې د اوبو لگونې د سیمو د پراختیا لپاره محدوده ورتیا شته ده او په دې حوزه کې جوړېدونکي او پلان شوي بندونه تر ډېره د برېښنا د تولید په موخه دي. له همدې کبله د دې حوزې د اوبو مسئله د شخړو پر ځای پر همکاریو بدلېدای شي؛ ځکه د برېښنا د تولید پروژې به د دواړو هېوادونو د برېښنا اړتیاوې پوره کړي. دغه ټکي ته په کتلو سره، دا ډول پروژې د دواړو هېوادونو ترمنځ له سیاسي ستونزو سره سره پلې کېدای شي. ښه بېلگه یې له مرکزي اسیا څخه سوېلي اسیا ته د برېښنا د لېږد (کاسا-۱۰۰۰) پروژه ده، چې له ټولو ستونزو سره سره د پلي کېدو په حال کې ده.

په لنډو ټکو کې شته فرصتونه، د دې حوزې د اوبو په تړاو د شته ستونزو په هوارې کې مرسته کوي. د گډ کار لپاره په افغان اړخ کې د سیاسي ارادې او ژمنې شتون، د نړیوالو تمویلوونکو شتون او توجه، د مخ پر ودې غیررسمي فعالیتونو شتون لکه گډې څېړنې او پر پاکستان د افغانستان په خاوره کې د اوبو د زېربناوو کمې اغېزې، هغه فرصتونه دي چې د اوبو په برخه کې د همکاریو لامل کېدای شي او په ټوله کې بیا دا همکارۍ د سیمې له ثبات سره مرسته کوي.

**د کابل-اسلام‌آباد د اوبو تړون د نشتون اغېزې**

امنیتي ستونزې او په تېره بیا د اوبو د بندونو جوړولو په تړاو د گاونډیو هېوادونو لاسوهنې، تر ټولو جدي ستونزه ده، چې له کبله یې افغانستان د خپلو اوبو په مدیریت او اغېزناک ډول کارولو او د دغه سکتور د پراختیا په چارو کې له ننگونو سره مخ کېږي. ډېر څله گاونډي هېوادونه د دغه ډول پروژو پر سبوتاژ کولو تورن شوي دي. د بېلگې په توگه په هرات کې د سلما بند د کارکوونکو وژل کېدل او د کونړ سیند د بند په سیمو کې بریدونه یادولی شو، چې ایران او پاکستان پکې پر لاس لرلو تورن دي.

د ایران په څېر له پاکستان سره د اوبو مسئله هم خورا سیاسي بڼه لري او په ټولیز ډول د اوبو د مدیریت قضیه په تخنیکي ارگانونو لکه له اوبو او انرژۍ وزارت څخه د ملي امنیت شورا او ولسمشرۍ ماڼۍ ته رسېدلې ده. کوم څه چې په نورو هېوادونو کې هم شته او د گډو اوبو اهمیت ته په کتلو سره ښایي مثبتې اغېزې هم ولري؛ خو کله چې په دې تړاو هېڅ تړون موجود نه وي او د خبرو اترو لومړي پړاوونه وي، ښایي اغېزې یې منفي وي.

د تړون نشتون دا قضیه نوره هم پېچلې کوي. له یوې خوا افغانستان په دې حوزه کې د بندونو جوړولو پلان لري او یا یې کار روان دی، چې پر پاکستان به هم اغېزې ولري او له بلې خوا پاکستان هم له افغان لوري سره له مشورې پرته پر کابل سیند د اوبو زېرمه کولو پروژې پلي کوي.

په اوسني وخت کې که څه هم د افغانستان او پاکستان ترمنځ د گډو اوبو په تړاو همکاري او خبرې اترې ډېرې عملي نه ښکاري؛ خو دا هغه قضیه ده چې کال په کال یې اړتیا زیاتېږي، ځکه په دواړو اړخونو کې د اوبو تقاضا د بېلابېلو لاملونو له کبله لوړېږي او په دې منځ کې د یوه تړون نشتون پر سیاسي اړیکو لا زیاتې منفي اغېزې ښندي. په دې تړاو ښه حل‌لاره دا ده، چې د ملگرو ملتونو یا نړیوال بانک تر سرپرستۍ لاندې د گډو اوبو پر سر د خبرو اترو لپاره یو کمېسیون وټاکل شي او له سیاسي اغېزو لرې په دې تړاو هڅې وکړي.

**دوام لري...**

## ملگري ملتونه: د فلسطینیانو د سیمو د الحاق په تړاو د اسراییل نوی پلان به خونړیو جگړو ته لار پرانیزي

د ملگرو ملتونو د بشري حقونو د برخې مشرې میشل باچلت له اسراییل غوښتي چې ژر تر ژره دې د بیت المقدس په لوېدیځه غاړه کې خپل غیر قانوني الحاق ودروي.

باچلت پر اسراییل غږ وکړ چې په لوېدیځه غاړه کې د فلسطین د اشغال شوي قلمرو د ځینو برخو د الحاق او ضمیمه کونې پلانونه ودروي.

نوموړې دغه راز خبرداری ورکړ چې که اسراییل له دې پرېکړې تېر نه شي، نو دغه پلان به خونړیو جگړو ته لار پرانیزي.

باچلت په یوې اعلامیې کې ویلي: «دا الحاق غیر قانوني دی. زه په دې اړه ډېره اندېښنه لرم، د یوې وړې برخې الحاق هم ښایي تاوتریخوالی زیات کړي او انسانان پکې ووژل شول.»

د رویټرز خبري اژانس وایي چې تر باچلت مخکې فلسطینیانو، عربو هېوادونو، ائتلافیانو یې او نورو بهرنیو حکومتونو هم د اسرائیل دا پلان غندلی و.

دا په داسې حال کې ده چې د اسرایل لومړی وزیر بینیامین نتنیاهو پلان لري چې په دغه سیمه کې پر یهود مېشتو ښارگوټو باندې د اسراییل حاکمیت وغځوي.

ټاکل شوې چې د اسراییل کابینه د چهارشنبې په ورځ (جولای۱) د دغو سیمو د یوځای کولو او الحاق په اړه رسمي بحث پیل کړي.

ملگري ملتونه اسراییل ته دا خبرداری داسې مهال ورکوي چې تر دې وړاندې د عرب پارلمان د اتحادیې مشر عاطف الطراونه ویلي چې فلسطین د عرب هېوادونو لپاره مهمه مسئله وه او وي به. نوموړي زیاته کړې چې دوی به دا هېواد هېڅکله اشغالگرو ته یوازې پرې نږدي. هغه ویلي، فلسطین هغه هېواد دی چې له ډېرې مودې راهیسې د اسراییل له لوري له ستونزو او کړاوونو سره لاس او گرېوان دی. عطف د خپلو خبرو پر دوام زیاته کړې چې اسراییل باید د فلسطین د لوېدیځې غاړې الحاق په اړه غور وکړي، ځکه چې په خبره یې، دا چاره به د اسراییل لپاره بدې پایلې ولري. نوموړي دغه راز د عرب هېوادونو د پارلمان پر ریيسانو غږ کړی دی چې پر خپلو حکومتونو فشار راوړي ترڅو د دې ننگونکې طرحې پر وړاندې خپل غږ اوچت کړي. د ملگرو ملتونو او نورو نړیوالو ادارو له خبرداریو سره سره، اسراییل لاهم د فلسطینیانو د سیمو الحاق ته دوام ورکوي او هڅه کوي چې یهودي مېشت ځایونه پکې جوړ او د خپلې خاورې برخه یې وگرځوي.

# د سولي ټکنۍ پروسه؛ کورني او بهرني عوامل

لیکنه: جمال رحمن- کوبها ډیالوګ

**وروستۍ برخه:**

**سیمه ییز لوبغاړي او د ګټو تضاد**

په بهرنۍ کچه د افغانستان په جګړه کې پاکستان یوازینی نه، خو تر ټولو ستر لوبغاړی دی. افغانان او تر ډېره نړیوال پاکستان د سولې په لار کې لوی خنډ ګڼي، د مخالفینو مرکزونه او روزنځایونه هلته دي او د دغه هېواد د پوځي او استخباراتي اورګانونو له خوا د خپلو ستراتیژیکو اهدافو د تحقق په نیت تمویلېږي. پاکستان له خپل جوړښت راپدېخوا د افغانستان د بې ثباتۍ او ناامنه کولو لپاره ستراتیژي لري او په متداومه توګه یې د بېلابېلو موسساتو په وسیله تعقیبوي.

په ۱۹۵۰مه لسیزه کې د برهان الدین رباني په ګډون ځینې ځوانان د لوړو دیني زده کړو لپاره مصر ته ولېږل شول. د فرانسوي محقق اولیویه روه له څېړنو څرګندېږي چې پاکستاني استخبارات په هغه وخت کې دې ته ځیر وو، چې څنګه دغه ځوانان تنظیم او د خپلو ګټو لپاره وکاروي. مودودي چې د سید قطب ترڅنګ د افغاني اخوانیانو لپاره د ایډیالوژیک الهام منبع وه، د افغاني اخوانیانو په تنظیم کې یې ستره ونډه لرله. د اولیویه روه په خبره، قاضي حسین احمد په هغه وخت کې څو واري په پټه کابل ته تللی و او په پغمان کې یې د دغو ځوانانو د تنظیم په نیت له دوی سره غونډې کړې وې. د دې هلو ځلو په پایله کې د «جوانان مسلمان» په نامه یو پاکستاني پلوه افراطي تنظیم رامنځ ته شو چې د پاکستان په هکله یې د افغانستان پر دریځ سختې نیوکې کولې. د بنګله دیش په جګړه کې د نورو سیاسي قوتونو برعکس، «جوانان مسلمان» په زرنګار پارک کې د پاکستان په ملاتړ مظاهره وکړه. پر افغانستان د شوروي اتحاد یرغل پاکستان ته یو طلایي چانس و چې د لوېدیځې نړۍ او عربو په امکاناتو یې د دغو اخوانیانو په مرسته له کډوالو ځوانانو یو مغز مینځلی قوت جوړ کړ چې هر څو کاله وروسته یې نوم بدلېږي او تر اوسه یې د افغانستان د کمزورتیا لپاره کاروي.

پاکستان په افغانستان کې سیاسي، پوځي او اقتصادي اهداف تعقیبوي او غواړي چې د افغانستان د غیر مستقیم اشغال په وسیله په یو مهم سیمه ییز ځواک بدل او له هند سره د رقابت جوګه شي. دغه هدف ته د رسېدو لپاره په افغانستان کې یو کمزوری لاسپوڅی حکومت غواړي څو د افغانستان له جغرافیې، بشري قوت، اوبو او طبیعي زېرمو نه استفاده وکړای شي او د مرکزي اسیا بازارونو ته لار پیدا کړي.

برعکس د پاکستان سیال هند له افغانستان سره تاریخي ښې اړیکې لري او د افغانستان په زیربنایي پروژو کې یې لویه پانګونه کړې. هند افغانستان ته هر کال د ۱۰۰۰ نه زیات تحصیلي بورسونه ورکوي چې دغه کار په طبیعي توګه د موجودو ښو اړیکو په پراختیا کې مرسته کوي. هند د ایران د چاه بهار بندر له لارې له یوې خوا افغانستان سره د تجارتي او نورو اقتصادي اړیکو پراختیا غواړي او له بلې خوا د مرکزي اسیا او روسیې بازارونو ته لاسرسی پیدا کوي، چې په همدې نیت یې د نوموړي بندر په پراختیا کې د سلګونو میلیونو ډالرو پانګونه کړې او د زرنج- دلارام د سړک په جوړولو سره یې له یوې خوا دغه بندر د افغانستان له سترو ښارونو او مرکزي اسیا سره وصل کړی او له بلې خوا یې فراه او نیمروز په مهمو تجارتي ولایتونو بدل کړي. په دې توګه د نوموړو ولایتونو په پرمختګ او د خلکو په ژوند کې ژور بدلون راغلی چې دغه حالت بیا پاکستان په خپله ګټه نه ګڼي او د هند د نفوذ پراختیا یې بولي.

ایران بل سیمه ییز لوبغاړی دی چې له یوې خوا له عربو په تېره سعودي عربستان سره خپله تاریخي دښمني په افغانستان کې پالي او له بلې خوا په افغانستان کې خپل سیاسي، اقتصادي او کلتوري اهداف تعقیبوي. زموږ امنیتي اورګانونه، محلي حکومتي مقامات او د ملي شورا ځینې غړي د افغانستان د زیربنایي پروژو لکه د سلما او کمال خان بندونو د کار د مخنیوي په خاطر تخریبي عملیاتو کې د ایران لاس لرل په ګوته کوي او بین المللي موسساتو، زموږ دولتي او غیر دولتي سازمانونو په جګړه کې د ایراني وسلو د استعمال او په ایران کې د ورانکارو د روزلو راپورونه خپاره کړي؛ خو د افغانستان حکومت په رسمي توګه تر اوسه ایران نه دی تورن کړی. د ایران لاسوهنه تر ډېره حده د اقتصادي او کلتوري یرغل او د افغانستان په مهمو دولتي ارګانونو کې د خپلو پلویانو د ځای پر ځای کولو په بڼه تر سره کېږي. همدغه شان عربستان او د خلیج ځینې نور هېوادونه بیا په افغانستان کې د ایران له نفوذ نه په وېره کې دي او له پاکستان سره په همکارۍ د طالبانو له تقویې سره مرسته کوي. د خلیج هېوادونو په ۱۹۸۰یمه لسیزه او بیا وروسته د تنظیمي جګړو په مصرف کې لویه ونډه لرله، خو د افغانستان په بیارغونه کې له متحده اماراتو پرته بل عربي هېواد د تمې خلاف ډېره ونډه وانخیسته، چې په دې کې زموږ د کمزورې ډیپلوماسۍ تقصیر هم دی.

**څنګه یوه منطقي حل ته ورسیږو؟**

جنګ ډېر اوږد شو او افغانان په خپله خاوره کې د تلپاتې جګړې توان نه لري. زموږ هلو ځلو تر اوسه څکه نتیجه نه ده ورکړې چې د ناامنۍ لوبغاړي زیات دي او له یوبل سره متضاد اهداف تعقیبوي. همدغه شان په کور دننه هم د ملي تفاهم لپاره ډېر کارنه دی شوی. زموږ حکومت، سیاسي ګوندونه، مدني ټولنې، قومي شوراګانې او میډیا مسوولیت لري چې د سولې په هکله د نظر د اختلاف باوجود واحد دریځ غوره کړي او عام ولس ته د سولې د کورنیو او بهرنیو دښمنانو په ضد جهت ورکړي. حکومت باید د ذهنیت او باور جوړونې په پروسه کې خلک د ځان ملګري کړي او خپل پلانونه له خلکو سره شریک کړي.

افغانستان د ۳۰۰ زرو په شاوخوا کې امنیتي سرتیري لري چې په سوله او دفاع کې ټاکونکی رول لري. امنیتي ځواکونه او د ملي امنیت ریاست د خلکو د امنیت، مال او ناموس په ساتنه کې د خطر په لومړۍ کرښه کې ولاړ دي. باید د سولې په خبرو کې د نظر حق ولري. موږ په کیفي او کمي لحاظ له پیاوړو استخباراتو پرته په سیمه کې ارام ژوند نه شو کولی؛ څکه باید د دغه ارګان تقویې ته ډېره پاملرنه وشي.

د ناامنۍ لوبغاړو ته په کتو سره باید د سولې لپاره هلې ځلې هم په ملي سطح او هم په سیمه ییزه او نړیواله سطح ښې همغږې شي او یوازې پاکستان ته توجه ونه شي. له چین او سعودي عربستان سره د کارونو همغږي کول ډېر ګټور تمامیږي؛ خو په غربي نړۍ، روسیه او ایران هم د زیاتې همکارۍ لپاره کار وشي. د سولې په خبرو کې د سیمې د نورو هېوادونو په څېر د هند رول هم مهم دی. هندوستان ته په کمه سترګه کتل به لویه تېروتنه وي. هند نه یوازې په سیمه کې، بلکې د نړۍ په سطح یو لوی اقتصادي او پوځي قوت دی او په هیڅ وجه به پرې نړدي، چې پاکستان په دې لوبه کې برلاسی شي.

د خبرو ترڅنګ هدفي وژنو، په مرکز او ولایتونو کې لویو او وړو حملو یوځل بیا ثابته کړه چې د پاکستان په ژمنو باور پکار نه دی. افغانستان باید له ټولو ګاونډیانو سره د ښو اړیکو د لرلو هڅه وکړي او پرې نړدي چې د کوم بل هېواد په ضد وکارول شي؛ خو د ښو اړیکو په لرلو هغه وخت بریالي کیدای شو چې په کور دننه د ګاونډیانو پر وړاندې ملي تفاهم موجود وي او د ګاونډیانو هره خبره په طلایي تله وتلل شي او د دوی خبرې او کړنې سره پرتله شي. افغانستان د خپلو ګاونډیانو او په تېره له پاکستان سره په ګاونډ کې د ژوند لپاره یوې ژورې تعریف شوې دایمي ستراتیژۍ ته ضرورت لري. دغه ستراتیژي باید داسې عیاره وي چې له یوې خوا له دغه هېواد سره د ښو اړیکو لپاره کار وشي او له بلې خوا پر دغه هېواد اقتصادي او تجارتي اتکا کمه شي. دغه هدف ته د رسېدو په خاطر باید د مرکزي اسیا له هیوادونو سره سیاسي، تجارتي، اقتصادي او ترانزیټي اړیکې ژورې کړای شي. د صنعت د ودې په برخه کې باید له شمالي ګاونډیانو سره د ګډې پانګونې لپاره کار وشي. په داسې حال کې چې افغانستان د سولې په لار کې له ځواکمنو مخالفینو سره مخ دی؛ خو اوس په سیمه او په تېره پاکستان کې نوي ضرورتونه رامنځ ته شوي چې سولې او اقتصادي همکارۍ ته زمینه مساعدوي؛ خو موږ یوازې د ملي تفاهم او یوې تعریف شوې پالیسۍ د تعقیب په صورت کې له دغو نویو ضرورتونو څخه د سولې او سیاسي ثبات لپاره استفاده کولی شو.

**پای**

---

# وحشتناک تاوتریخوالی او ملکي مرګ ژوبله؛

## د سولې له هڅو سره هممهاله په هلمند کې چاودنو د ۲۳ ملکیانو ژوند واخیست

په دې وروستیو کې په هېواد کې په بېلابېلو ولایتونو کې تاوتریخوالی ډېر شوی چې ورسره جوخت د ملکي وګړو مرګ ژوبله هم لوړه شوې ده. تازه په هلمند کې په یوه دودویزه میله کې چاودنه شوې ده چې د رسمي معلوماتو له مخې، ۲۳ ملکیان پکې وژل شوي دي. تر دې یوه ورځ وړاندې هم په دې ولایت کې د ماین په چاودنه کې ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې وه او تر هغه مخکې بیا په بلخ ولایت کې په هوایي برید کې ملکي وګړو ته تلفات اوښتي وو. افغان حکومت بیا ټینګار کوي چې باید تاوتریخوالی کم شي او امریکا هم د بین الافغاني خبرو پر ژر پیل ټینګار کوي.

پرون د هلمند ولایت په سنګین ولسوالۍ کې د بازار دودیزه مېله وه. په دغه مېله کې د سنګین ولسوالۍ له بېلو برخو خلک ګډون کوي، خپل توکي پلوري او په بدل کې د اړتیا وړ نور توکي رانیسي، خو دغه مېله هغه وخت پر غم واوښته چې لومړۍ وربانديې د توغندیو ګزارونه وشول او وروسته پکې موټر بم برید شوی دی. د هلمند ولایت مقام وایي چې وسله والو طالبانو پر دغه مېله راکیټي او موټر بم بریدونه کړي دي. د ولایت مقام په خبرپاڼه کې راځي چې په دې پېښه کې ۲۳ ملکي وګړي وژل شوي او پنځلس نور ټپیان دي. ولایت مقام وایي، طالبانو دغه برید د خپلو استخباراتي او بهرنیو ملاتړو په مرسته کړی و او قربانیان یې ټول ملکي وګړي دي. د سرچینې په خبره: ((دښمن چې د خلکو مېشت ځایونو ته نږدې یې د بهرنیو تروریستانو په همکارۍ موټربمونه او توغندۍ جوړولې، د خپلو توغندیزو بریدونو له کبله پرې چاودیدونکي توکو هم چاودنه کړې ده، چې دوه وسله وال طالبان پکې وژل شوي)).



وسله وال طالبان بیا وایي چې دوی په دې برید کې لاس نه لري او پړه یې پر حکومت اچوي. وسله والو طالبانو ادعا کړې چې برید د افغان ځواکونو له لوري ترسره شوی دی. د هلمند ولایت مقام بیا وایي، طالبان په دغه ډول تبلیغاتو غواړي عامه ذهنیت مخشوش کړي او افغان ځواکونه بدنامه کړي. د وسله والو طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد بیا تېره ورځ ناوخته ویلي، رسنۍ کولی شي سنګین ولسوالۍ ته لاړې شي او دغه سیمه له نږدې وګوري او حقیقت نړیوالو ته روښانه کړي.

سره له دې چې په افغانستان کې د سولې لپاره هڅې روانې دي، خو د تاوتریخوالي دغه ډول ډېروالی او ملکي مرګ ژوبله د جدي اندېښنې وړ ده. څو ورځې وړاندې په کابل کې د اروپايي ټولنې استازي رونالډ کوبیا هم په دې تړاو اندېښنه ښودلې وه. هغه بیا طالبان د تاوتریخوالي اصلي عاملین بللي او په خبره یې، د طالبانو له لوري د تاوتریخوالي اوسنی وضعیت او ډېروالی د منلو وړ نه دی. د سولې هوکړې له مخې باید د تاوتریخوالي کچه راټیټه شوې وای، بین الافغاني خبرې پیل شوې وای او ژر تر ژره دایمي اوربند ته لاره هواره شوې وای.

تر دې یوه ورځ وړاندې هم په هلمند کې د یوه ماین د چاودنې له امله ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې وه. حکومتي سرچینو ویلي وو چې په چاودنه کې شپږ ملکي وګړي وژل شوي دي. تر دې څو ورځې وړاندې د بلخ ولایت په بلخ ولسوالۍ کې هم د ملکي وګړو پر کور هوایي برید شوی و چې مرګ ژوبله یې اړولې وه. افغان حکومت بیا تېره ورځ یو ځل بیا پر طالبانو غږ کړی چې له تاوتریخوالي لاس واخلي او بین الافغاني خبرو ته تیار شي، تر څو جګړه په افغانستان کې د تل لپاره پای ته ورسېږي.


له دې سره جوخت د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد هم د سفرونو نوې لړۍ پیل کړې ده او هڅه یې دا ده چې د سولې هوکړې پاتې برخې عملي شي، تاوتریخوالی کم شي، زندانیان ازادي شي او د بین الافغاني خبرو لپاره زمینه برابره کړل شي.

## د کتــاب خبــرې

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل

### دویمه برخه
### یو کاروبار او اته شتمني جوړوونکې دارایۍ
### دولسم څپرکی





په بله وینا، د یو شبکه یي بازار موندونکي په توګه، ته د میټ کالف د قانون وړتیا او واک ترلاسه کوې. مثلاً، لکه یوازې چې ته ټلیفون ولرې او نور څوک یې ونه لري. د میټ کالف له قانون څخه د ګټې اخیستنې لپاره مجبور یې چې ستا غوندې یو بل څوک هم د شبکې د پرمختګ لپاره پیدا کړې، یانې شریک پیدا کړه. که دوه تنه شئ، نو د میټ کالف د قانون له مخې څلور کسان شوئ. که درې شئ، نو ارزښت به مو نهو ته پورته شي. که ستا دوه تنه، نور دوه تنه پیدا کړي، نو د شبکې اقتصادي ارزښت به دې سپوږمۍ ته د توغېدونکي راکټ غوندې په چټکۍ زیات شي. تاسو د ریاضي له مخې کار کوئ؛ خو ستاسو اقتصادي ارزښت په بالقوه توګه مخ په زیاتېدو دی.

د میټ کالف قانون په ساده ژبه وایي چې شبکه د لیور (Lever) په توګه کار کوي. اجازه درکوي چې په خپلو هڅو او وخت کې زیاتوالی راولئ.

د پخواني یونان یو انجینیر ارکیمېډیس د لیور اصول کشف کړي او وایي:((ما ته د درېدلو لپاره یو ځای راکړئ، زه نړۍ ته حرکت ورکوم.)) د دغه وړتیا د ښکاره کولو لپاره یې د یونان ټولې جنګي بېړۍ په رسیو او څرخونو وتړلې او بیا یې د ټولو رسیو سر په لرګي پورې وتاړه. د هر څه تر چمتو کېدو وروسته یې - چې زیاتو خلکو یې په خاموشۍ ننداره کوله - په یوازې ځان لرګي ته حرکت ورکړ او ورسره ټولو جنګي بېړیو د اوبو پر مخ حرکت پیل کړ.

دا د شبکې وړتیا ده. ارکیمیډس له رسیو څخه د یوې شبکې په جوړولو په یوازې ځان هغه ټولې بېړۍ پر حرکت راوستې چې د روانولو لپاره یې زرګونو کسانو ته ضرورت دی. د رسیو دغه یو ځای کول څه شی وو؟ دا یوه شبکه وه.

دا یو حیرانوونکی قوت دی چې په انګېزو او ګنګوسو خپرېږي. یو کس درېیو کسانو ته وایي، هغه درې کسان نورو درېیو کسانو ته او هر یو و درېیو نورو کسانو ته. درېیو کسانو ته په ویلو ډېر زر ټول ښار خبر شي. موډ او فیشن هم په دغه طریقه خپرېږي. او دغه د شبکه یي بازار موندنې اصلي ستراتېژي ده. د میټ کالف د قانون وړتیا د ترلاسه کولو لپاره د خلکو له شبکو څخه ګټه واخلئ.



شبکه یي بازارموندنه اوس په نړۍ کې ترټولو چټک پرمختګ کوونکی تجارت دی؛ خو بیا یې هم خلک نه ویني، ولې یې نه ویني؟ ښایي تولیدات ویني. د ژوند کولو او روغتیایي تولیدات، مخابراتي تولیدات، دوی په اصل کې پر دې نه پوهېږي چې دا کاروبار دی. اصلي تجارت تولیدات نه دي، بلکې هغه شبکه ده چې په مرسته یې تولیدات پلورل کېږي. د اډیسن برښنایي څراغ ارزښت نه لاره، بلکې د ده برښنایي شرکت ارزښت درلود.

خلک اوس هم د شبکه یي بازارموندنې تجارت نه ویني، ځکه هغه د لیدلو وړتیا نه لري. دا تجارت مادي نه، مجازي دی. هر څوک یې د لیدلو توان نه لري، ډېر لږ کسان یې ویني. دا د رښتینو اطلاعاتو د وخت تجارت دی. د دې د لیدلو لپاره خلاصو سترګو ته نه، خلاص دماغ ته ضرورت دی. شبکه یي بازارموندنه په ټوله نړۍ کې غځېدلې ده؛ خو بیا یې هم ډېر خلک د لیدلو توان نه لري.

د جنرل موټرز او جنرل الکتریک په څېر تجارتونه د صنعتي وخت تجارتونه دي. فرنچایز شرکتونه لکه مک ډونالډ، سب وې، UPS سټور، ایس هارډوړډ او نور د صنعت او اطلاعاتو د وخت ترمنځ پول ګرځېدلي. ځکه له ځمکې، موادو، کارځای او کارکوونکو سره کار نه لري، بلکې یوازې په اطلاعاتو پورې اړه لري.

د یوه شبکه یي بازارموندونکي په توګه، ښایي ته دا فکر وکړې چې ستا دنده د تولیداتو وړاندې کول او پلورل دي؛ خو داسې نه ده. ستا دنده د معلوماتو او اطلاعاتو انتقالول دي چې ښه داستان ووایې او شبکه جوړه کړې. **دوام لري...**

# میرزا غالب

شفیق امیرزی




میرزا غالب د فارسي او اردو ژبې نوموتی شاعر تېر شوی دی. هغه په میرزا اسدالله غالب یا غالب دهلوي هم مشهور دی. میرزا غالب د ۱۷۹۷ز کال د ډسمبر په ۲۷مه د هند په اګره کې زیږېدلی دی. ده ته ځکه دهلوي وایي چې وروسته بیا دهلي ته کډه شوی دی او په دغه ښار کې یې د عمر تر پایه ژوند کړی دی. میرزا اسدالله غالب په هند، افغانستان، ایران او نورو سیمه ییزو هېوادونو کې مشهور دی. انګلیسي ته یې د ځینو شعرونو له ژباړې وروسته اوس د نړۍ د شعر او ادب مینه وال له نامه سره اشنا دي. دی د مغولي امپراطورۍ په وروستیو وختونو کې نړۍ ته راغلی دی. په داسې وخت کې یې ژوند کړی چې په هند کې د برېټانیا، هندیانو، مغولي امپراطورۍ او نورو مذهبي ډلو تر منځ سخت کشمکشونه روان وو. غالب په همدې کړکېچنو حالاتو کې ژوند کاوه او هڅه یې کوله چې په رښتینې مانا یو انسانپال شاعر پاتې شي. غالب په سیاسي جریانونو، مذهبي حرکتونو او نورو مسایلو کار نه درلود. د مینې، انساني ژوند او خپلو ناخوالو په اړه یې شاعري کوله.

د میرزا غالب د اصل او نصب په اړه ویل کېږي چې هغه په اصل کې ترک نژاده او نیکونه یې له سمرقند یا اوسني ازبکستان څخه هند ته کډوال شوي وو. ویل کېږي چې نیکه یې میرزا قوکان بیګ نومېده، هغه ترک نژاده و او د ستر امپراتور احمدشاه ابدالي د واکمنۍ پر مهال هند ته کډه شوی و. دی له سمرقند تر تګ وروسته لومړی په لاهور کې مېشت شو، خو وروسته بیا جیپور، دهلي او په پای کې آګرې ته لاړ.

د میرزا پلار عبدالله بیګ د عزت النسا نومې پېغلې سره واده وکړ. هغه په اګره کې د یوه شتمن او خورا مشهور شخص او حاکم لور وه. دوی په اصل کې د کشمیر و. د میرزا پلار تر ډېره ژوندی نه و. میرزا غالب چې پنځه کلن و، پلار یې په ۱۸۰۳ز کال کې په یوه جګړه کې ووژل شو او میرزا خپل تره ته پاتې شو. تره یې د ده پالنه کوله، خو لا هم د خپل نیکه په کور کې و. له بده مرغه چې تره یې هم درې کاله پس ومړ. له فیل را ولوېد او سخت ټپي شوي چې وروسته یې د همدې ټپونو له امله سا ورکړه. دا خبره سمه نه ده چې میرزا غالب ګواکې په یوه بېوزله کورنۍ کې لوی شوی دی، بلکې هغه د خپل شتمن نیکه په کور کې لوی شو، خو وروسته وروسته په ژوند کې بې پامیو او بې پروایيو دی خورا بېوزله کړ چې له همدې امله یې ژوند په ډېرو او ناپایه سختیو کې تېر کړ.

غالب د خپل نیکه په کور کې لویېده. نیکه یې نواب و، شتمن و، مشهور او په خپله سیمه کې نفوذي کس و. له همدې امله یې د شتمنو کورنیو ښوونځي او مدرسې لوستلی شوای. هغه د عربي، اردو او فارسي زده کړې ته مخه کړه او تر څنګ یې غوښتل د هغه وخت مروج علوم هم زده کړي. غالب په دیارس کلنۍ کې له عمروبېګم نومې نجلۍ سره واده وکړ. دا یې د نیکه د ورور نواب الهي بخش لور وه. له همدې امله له اګرې راغی ډهلي ته او دلته یې ژوند پیل کړ. دی له خپل واده تر ډېره راضي نه و، وروسته په خپل یوه لیک کې لیکي چې یو وار ژوند ورته زندان شو او بیا یې واده ده ته بل زندان شو. واده د ځان لپاره دویم حبس بولي. دی وایي، دا هر څه ډېره دردناکه مبارزه غواړي، ژوند سخت دی او تر هغه خلاصون نشته چې ژوندی یې. ده به ویل، ژوند د لوبو د میدان په څېر دی او یوازې ماشومان به پکې خوشاله وي. له مېرمنې سره یې ښه اړیکه نه لرله، تل یې له خپل ګډ ژوند شکایت کړی دی. غالب به تر کور ډېر بهر و، کور یې زړه تنګېده پر ځای به یې غوره بلله چې بهر له خپلو ملګرو او دوستانو سره وخت تېر کړي.

میرزا غالب له اګرې ډهلي ته راغلی و او هڅه یې کوله چې د خپل شعر او شاعرۍ له لارې پیسې وګټي او ژوند وکړي. ده غوښتل دربار ته لار پیدا کړي او بریالی شو چې د مغولي امپراتورۍ دربار ته ننوځي. دا داسې مهال و چې بهادرشاه ظفر د هند پر ځمکه واکمني کوله، خو د مغلي حکومتونو پښې لړزانده وې او پخوانی برم یې نه درلود. سلطان ده ته د دبیرو الملک لقب او دنده ورکړل. تر دې وروسته یې سلطان نجم الدوله لقب ورکړ. دا لقبونه د مغولیانو په حکومت کې مهم وو او یوازې دربار ته نږدې کسانو ته ورکول کېدل. وروسته دربار میرزا نوشا لقب ورکړ چې بیا د میرزا مختاړې له همدې ځایه د غالب له نامه سره یو ځای شو. دی په مغولي امپراتورۍ کې مخور کس شو. دا چې بهادرشا پخپله شاعر و، نو له میرزا غالب به یې غوښتل چې د ده شعرونه ورته اصلاح کړي. په دې توګه نو میرزا غالب دا مهمه دنده هم لرله. ددې تر څنګ د شاهزاده فخرالدین میرزا استاد هم شو او هغه ته به یې تدریس کاوه. میرزا غالب د دې تر څنګ د امپراتورۍ له لوري وګومارل شو چې د مغولي سلطنت او پادشاهانو تاریخ ولیکي.

سره له دې چې غالب د مغولي امپراتورۍ دربار ته نږدې کس و، خو دی شتمن نه شو. ټول شته یې په ملګرو او شاوخوا کسانو خوړل. دی تر مرګه پورې بیا په بېوزلۍ او سختۍ کې ژوند کوي. ډېر خلک یې نه پېژني، خو ده لا پخپل ژوند ویلي وو چې غالب به اوسني نه خو راتلونکي نسلونه ښه وپېژني او له خبرو به یې ډېر څه خپل کړي. غالب تر هغه وروسته د سختۍ ژوند درلود چې د مغولو امپراتوري ړنګه شوه او واک د برېټانویانو لاس ته ورغی. حکومت په لومړي سر کې له ده او ملګرو سره یې سخت ناوړه چلند وکړ. د ده څو ملګري له مغولو سره د اړیکو په تور او همدا راز ځینې بیا وروسته د حکومت پر ضد په تخریبي فعالیتونو کې د لاس لرلو په تور د برېټانوي حکومت له لوري ووژل شول.

غالب له ماشومتوبه د شعر او ادب مینه وال و. په ۱۱ کلنۍ کې یې شاعري پیل کړه. په لومړي سر کې یې په فارسي شعرونه ویل. ده په کور کې په ترکي او اردو ژبو خبرې کولې، خو د زده کړو په لړ کې یې فارسي ژبه هم زده کړه او همدا راز په دې برخه کې ډېرې مطالعې د دې جوګه کړ چې په فارسي ښه شاعري وکړي. په شاعرانه کلامونو کې یې اردو لغاتونه خورا ډېر دي. د دې تر څنګ د ترکي ژبې لغاتونه هم د میرزا په شعر کې تر سترګو کېږي. دی چې کله ځوانېږي، نو بیا په اردو شاعري پیلوي، غزل او قصیدې لیکي. یو وخت یې له یوه ملګري سره مخامخ کېږي او ده ته وریادوي چې په فارسي ژبه به یې هم ښه شاعري کوله، نو ځکه غالب هڅول کېږي چې په فارسي ژبه هم شعرونه ولیکي. اوس یې د فارسي شعرونو کمیت تر اردو شعرونو ډېر دی. دی په خپله شاعرۍ کې د هندي سبک پیرو دی، نازک خیال شاعر دی، طعبیت ته متوجه دی، ژوند ته پام کوي او له ښکلو تشبیهاتو په شعرونو کې کار اخلي.

غالب یې په شعر او شاعرۍ کې د هغه له واقعي شخصیت سره توپیر لري. په مذهبي لحاظ انسانیت او مذهبونو ته درناوی لري. دی مذهبي سړی نه و، سره له دې چې شاوخوا کسان یې مذهبیان وو. ان خسر یې مشهور دیني عالم او مخور سړی و. ده خدای، پیغمبر او د هغه کورنۍ ته درناوی درلود. په شعرونو کې یې ښکاري چې له علي سره یې مینه وه. ویل کېږي چې هغه به هره شپه اوږده شېبه اسمان ته کتل، په کټ کې به لټ په لټ اوښت او د نړۍ نظم ته به حیران و. د غالب په اړه یوه خبره دا هم ده چې ډېر خوب یې نه درلود، دې بې خوبۍ ورسره مرسته کوله چې لا ډېره شاعري وکړي او لا ډېر څه ولیکي. هغه په ژوند کې په خپلو تېروتنو اقرار کاوه، ریا کاره سړی نه و، له خلکو یې خپلې نیمګړتیاوې او تېروتنې نه پټولې. دی ډېر وخت مذهبي او دیني متعصبین په خپل کلام کې مسخره کوي. په ژوند یې هم تنګ نظره خلک نه خوښېدل. له دې ټولو سره سره غالب یو معمولي انسان و. ځینو په شرق او غرب کې په ده پسې خرافاتي کیسې هم تړلې دي، خو څېړنې وایي چې هغه د نورو شاعرانو او انسانو په څېر معمولي ژوند درلود او خلک هم له ډېرې مینې په ده پسې د ستاینې خرافاتي کیسې تړي. د شعري اروا‌پوهنې له اړخه غالب دوه ګونی شخصیت لري. په شعر کې کله د سیند له غاړې له تندې مړه کېدل ویاړ او شهادت بولي، خو کله کله بیا په یو ځاځکي اوبو پسې نارې سورې جوړوي.

ده په خپلو شعرونو کې نه یوازې د هندیانو، بلکې په سیمه کې د ټولو مشترک فرهنګ لرونکو ملتونو پر یو ځایوالي ټینګار کاوه. ده به له اصفهان، له سمرقند تر کابل، هرات او ډهلي د یووالي غږ کاوه او پر خپلو ملتونو یې د بیدارۍ نارې وهلې. غالب یوازې په شاعرۍ کې نه، بلکې په ځینو نورو هنرونو کې هم وارد و. هغه خورا خوږ نثر هم لیکه، له همدې امله د بهادرشا دربار ده ته ځانګړې څوکۍ ورکړه.

سره له دې چې غالب په ژوند کې ستونزې لرلې، خو د دوستانو تر منځ یې بیا په ټوکې او ظریف سړي هم شهرت درلود. د ده یو شاګرد هالي تل د ده له شوخیو او په مجلسونو کې یې له ځینو ټوکو یادونه کوي. د ده ډېرې کیسې شته چې هم له پند ډکې دي او هم د ټوکې او مسخرو ښه لري. د ده ظرافت تر ډېره په هغو لیکونو کې ښکاري چې خپلو ملګرو ته یې لېږلي دي.

غالب په سیمه کې ستر شاعر و. هغوی چې د سیمې د شعر او ادب په اړه خبرې کوي، مقالې لیکي او یا غواړي په سیمه کې پر روان ادبي او علمي بهیر پوه شي، نو د میرزا غالب شعر او شاعري یې ارو مخې ته راځي.

سره له دې چې غالب ستر شاعر و، خو د عمر وروستي وختونه یې له سختیو، بچارګیو او ستونزو ډک وو. ویل کېږي چې د مرګ پر مهال غالب څلوېښت زره ډالره پوروړی و چې هغه وخت ډېرې پیسې وې. له ده سره د وخت یو چارواکي د پیسو ژمنه هم کړې وه، خو تر مرګ یوه ورځ وروسته ده ته ورسېدې. غالب د ۱۸٦۹ ز کال د فبرورۍ په ۱۵مه په نوي ډهلي کې ومړ. دی په خپله هستوګنځي کې د هند د ستر صوفي خواج نظام الدین اولیا مزار ته نږدې خاورو ته وسپارل شو. د غالب دا خبر رښتیا شوه چې تر مرګ وروسته به یې ډېر خلک وپېژني، همداسې وشول، ډېر مینه وال یې پیدا کړل او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې یې خلک له کلام او هنر سره بلد شول.

همیانی

# هغه څه چې اړین نه دي، لرې یې کړئ

ژباړه: امان الله «حنیفي»

یوه شېبه مو د خپلو موخو او د هغو د پاللو په اړه فکر وکړئ، هغه څه چې ډېر خلک یې په اړه فکر کوي، دا دي چې له کومې لارې ډېر عاید تر لاسه کړي؟ کومو ځایونو ته سفرونه وکړي؟ له کومو کسانو سره به ووېني؟ کوم ښیزونه به لاس ته راوړي او کومو امکاناتو ته به ورسېږي؟ ایا په همدې فهرست کې کومې خاصې نقطې ته متوجه شوی؟ د دې فهرست هر یو جز ډېر ارزښت لري، په هغه کې داسې کوم جز نشته چې تاسې یې خپلو موخو ته د رسېدو لپاره باید پرېږدی؛ خو موخو ته د رسېدو لپاره هم باید ترې صرف نظر ونه کړئ.

لومړی موخې د دروني بېې پرې کول غواړي، خو دا یوه خبره سر له اوسه ذهن ته وسپارئ «د دې لپاره چې خپلو موخو ته ورسېږی، باید ډېر څه له لاسه ورکړئ، دا لویه ننګونه نه ده چې باید بد ښیزونه له لاسه ورکړئ، بلکې له هغو ښو ښیزونو چې له تاسې سره چنداني مرسته نه شي کولای هم تېر شئ. د بېلګې په ډول، ستاسې یو ملګری له ګلف لوبې سره مینه لري، خو ۱۵ کاله کېږي چې ګلف لوبه یې نه ده کړې؛ ځکه هغه واړه بچیان لري او نه غواړي چې له هغوی لرې وخت تېر کړي. زه مې د خپلې خوښې ډېر کارونه نورو ته سپارم، ځکه پوهېږم چې هغوی یې زما په خوښه سم سر ته رسوي. زه د بېلابېلو برخو په اړه له ښېړنو سره مینه لرم او د هغوی پایلې له خپلو کارکوونکو سره شریکوم. ځینې داسې کارونه دي چې زه یې په یوازې ځان سرته رسولی شم، زه یوازې پر همدې کارونو تکیه کوم.

له خپل پلانه د غیرضروري ښیزونو ایستل، هره ورځ کار ته اړتیا لري؛ خو همدا کار د دې ارزښت لري چې دې هغه لپاره هره قرباني ورکړئ او دې له منځه وړلو لپاره یې ډېر څه وګالی. ولې؟ ځکه ډېری کسان چې نه شي کولای خپلې موخې لاس ته راوړي، تر ټولو لویه ستونزه چې د دوی مخه یې ډب کړې ده، هغه له هڅې او تلاش لاس اخیستل دي. که غواړی چې خپلې موخې مو لاس ته راوړی، باید له کم ارزښته ښیزونو تېر شئ، څو مو ډېر ارزښت لرونکو ښیزونو ته وخت پیدا کړی.

له ننګونو مو ملاتړ وکړئ

د موخو تر اعلان وروسته د اقدامونو ارزونه، د ټولو انتخابونو په نظر کې نیول، له ټولو امکاناتو ګټه اخیستل او د غیر ضروري ښیزونو حذف، لا هم بل کار لری چې باید سر ته یې ورسوی: باید له خپلو ننګونو مو استقبال وکړئ.

هرې موخې ته د رسېدو غځېدلې لارې له ډېرو ستونزو او لوړو ځوړو ډکې دي، له هرڅه مهمه دا ده چې ځان له هغه سره مخ کولو ته چمتو کړئ. د دې پر ځای چې د تېر وخت په اړه فکر وکړی او اندېښمن شی، د راتلونکې په اړه مو فکر وکړئ. کولای شی چې ذهني لرلید په نظر کې ولری، ځان هسې ووینئ چې له دې ننګونو پر ځینو یې برلاسې شوي یاستی. هېڅ داسې کس نشته چې موخو ته د رسېدو پر لار یې د ماتې نه وي خوړلې. ستاسې له هدفونو باید یو دا وي چې ماتې خوړل تجربه کړئ، له هغه درس واخلئ، نوره یې هېره کړئ او بالاخره بریا ته ورسېږی.

کلونه مخکې مې چې کله د کارولینای او دوک په پوهنتونونو کې د رهبری په اړه سمینار ورکاوه، له روبرت ژیلبرت اروایوه سره مې ولیدل، د مېز پر سر مې له هغه وپوښتل: «ستاسې په باور، د بریالیو او ناکامو ورزشکارانو تر منځ توپیر په څه کې دی؟» ساده خو باوري ځواب یې راکړ: «مات شوي ورزشکاران د ماتې د عواقبو په اړه فکر کوي، خو بریالي هغه بیا د بریا د پاداش یا اجرې په اړه فکر کوي.»

«مات شوي لوبغاړي د ماتې پر لاملونو اندېښنه کوي او بریالي هغه بیا د بریا په اړه فکر کوي.»

د ماتې تجربه کول یو نه ځان ساتونکی امر دی، مانا دا چې په ژوند کې هم ترې ځان نه شې بچ کولای، نو پر همدې اساس مې تاسې ته سپارښتنه دا ده چې له ماتې خوړلو سره مینه ولرئ. کله مو چې ماتې وخوړه، بیا هغه ومنئ، دقیقه یې و ارزوئ او له هغه درس واخلئ. که مو همدا کار وکړ، نه یوازې دا چې ماتې خوړل به تکرار نه کړی، بلکې په احساسي لحاظ به هم پیاوړي شی.

دویمه ننګونه چې تاسې باید ورسره مخ او پر هغه برلاسې شی، هغه انعطاف پذیر اوسېدل دي. وسي کلارک وایي: «دوه ډوله پلان لرم: لومړی هغه پلان چې ممکن بریالی شي او دویم هغه پلان چې له کار او عمل وروسته بیا هم نه بریالی کېږي. د «سل په سلو کې بریالی پلان» په نوم څه نشته، باید داسې یو پلان جوړ کړئ چې په زیات احتمال سره بریالی شي او وروسته بریا ته د رسېدو لپاره هڅه وکړئ.» دا چې دې انعطاف پذیری د اوسېدو لپاره هڅه کوی، دا په یاد لرئ چې ممکن ستاسې له موخو ښېرته نوره هڅه بدلون وکړي. بیل کاربي وایي: «د کوترې په ځاله کې له کوترې پرته بل هېڅ هم ژوند نه شي کولای.» دا خبره کاملاً سمه ده، د انعطاف پذیرۍ ځانګړنه خپله کړئ او د بدلون لپاره چمتو اوسئ.

البته داسې تضمین نشته چې تاسې به حتماً د دې نقطو په رعایت کولو سره خپلو موخو ته ورسېږی، خو که یو پلان او برنامه ولری، که انعطاف پذیره اوسی، که پر خپلو موخو تمرکز ولری، که خپل امکانات سره یو ځای کړی او که هره ورځ خپلو موخو ته د رسېدو لپاره هڅه وکړی او د پرمختګ کولو لپاره یو قدم واخلی، په زیات احتمال سره به خپلو موخو ته ورسېږی.

موخې اسانه او ډېرې ژر پر حقیقت نه بدلېږي او نه هم مطلوب نتایج لاس ته راوړي، نو ښه دا ده چې هڅه او کوښښ مو هماغسې جدي په پام کې ونیسئ. د موخو د لاس ته راوړلو لپاره هم باید ښه پیل وکړئ او هم ښه پای.

هڅه وکړئ چې پر هغه څه له مصروف اوسېدو لرې پاتې شی، چې هغه درسره د اساسي موخو په لاسته راوړلو کې مرسته نه شي کولای. د بېلګې په ډول، خوښېږي مو چې انجنیر شی، خو د ښوونځي په دوره کې په ریاضیاتو کې هېڅ کوښښ نه کوی، غواړی ښه ژورنالیست جوړ شی، خو یوه ورځ هم د خدای په پار په ټولګي د خبرو کولو یا یو سمینار وړاندې کولو ته نه ولاړېږی. ټوله انرژي مو پر هغه څه ولګوئ چې هغه خپلو لومړیتوبونو ته په رسېدو کې درسره مرسته کولای شي.

# حکمتیار: افغان حکومت باید داسې شرایط وضع نه کړي چې د سولې بهیر له خنډونو سره مخ شي




د اسلامي حزب مشر ګلبدین حکمتیار حکومت د کرونا د مخنیوي لپاره له مرسته شویو پیسو د غلا په هڅو تورن کړی او وایي، حزب اسلامي تر هغه د حکومت تر مدیریت لاندې کار نه کوي چې له دوی سره د سولې شوې هوکړه نه وي پلې شوې.

دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان د دولت او حزب اسلامي د مرکچي پلاوي ترمنځ د ۱۳۹۵ کال د تلې میاشتې په لومړۍ نېټه د سولې هوکړه لیک لاسلیک شو. د حزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار پرون په کابل کې خبریالانو ته وویل، چې حکومت له دغه ګوند سره د سولې پر شوې هوکړه عمل نه دی کړی او د دغه ګوند زرګونه کسان لا هم بندیان دي.

د ده په وینا، له حزب اسلامي سره د دولت د سولې هوکړې په نه عملي کېدو ولسي جرګه، امنیت شورا او بهرني هېوادونه خبر دي، خو هېچا یې هم د عملي کېدو لپاره ګام نه دی اخیستی.

ده زیاته کړه: «تر هغه چې حکومت له موږ سره د هوکړې هر بند نه وي پلی کړی، موږ د حزب په توګه د دغه حکومت تر مدیریت لاندې کار نه کوو. تر اوسه د دغې هوکړې منځپانګه نه ده عملي شوې.»

هغه وویل، چې د طالبانو او داعش مشران خوشي شول، خو د حزب اسلامي بندیان تر اوسه په زندانونو کې پراته دي.


حکمتیار د یادې هوکړې د نه عملي کېدو په اړه له جزیاتو ورکولو پرته وویل: «شاید د دغې هوکړې د نه عملي کېدو لامل دا وي چې د اقتدار په کرسۍ ناست کسان داسې فکر کوي چې که دغه هوکړه منل شوې وای، نو دوی ته به ګواښونه رامنځته شوي وای او د ټاکنو پایلې به هم داسې نه وې.»

دغه راز هغه یو خل بیا وویل چې د سولې په بین الافغاني خبرو کې هغه مهال ګډون کوي چې حزب اسلامي د اپوزیسیون په توګه ومنل شي.

حکمتیار وایي، د سولې بین الافغاني خبرې دې پرته له شرطه پیل شي، د سولې لپاره دې یو اتفاقي طرحه جوړه شي او د تصمیم لپاره باید یوه مقتدره ټیم رامنځته شي.

نوموړي له حکومت څخه وغوښتل چې داسې شرایط وضع نه کړي چې د سولې بهیر له خنډونو سره مخ شي. ده په خلکو غږ وکړ چې سره یوځای شي، ترڅو د اوسني وضعیت څخه وژغورل شي.

# ملي امنیت شورا: د یوشمېر نورو طالب زندانیانو پر خوشې کېدو کار روان دی



سیمې ته د زلمي خلیلزاد د نوي سفر له پیل سره سم، د ملي امنیت شورا وایي، له بند څخه د یو شمېر نورو طالب زندانیانو پر خوشې کېدو کار روان دی.

د ملي امنیت شورا دفتر وایي، تخنیکي ټیم یې پر دې کار کوي چې طالب زندانیان له بنده خوشې کړي.

ملي امنیت شورا زیاتوي، دوی له زندان څخه د هغو پاتې طالب بندیانو د خوشې کولو پر چارو بوخت دي چې نوملړ یې ورته سپارل شوی دی.

د ملي امنیت شورا د دفتر ویاند جاوید فیصل ویلي، د طالب زندانیانو د خوشې کولو پروسه اوس هم روانه ده.

هغه زیاته کړې: «د طالب زندانیانو د ازادۍ پروسه په دوامداره توګه مخ ته تللې ده، د افغانستان حکومت یې سر لارې و، اوس هم دا پروسه روانه ده او تخنیکي ټیمونه د بندیانو پر ازادۍ او نورو برخو کار کوي.»

دا په داسې حال کې ده چې د راپورونو له مخې، افغان حکومت تر دې مهاله د طالبانو له ۳۵۰۰ زیات زندانیان خوشې کړي او طالبانو یې بیا په بدل کې هم له ۵۰۰ زیات د حکومت زندانیان له بنده ازاد کړي دي.

ملي امنیت شورا داسې مهال د پاتې طالب زندانیانو د خوشې کېدو په اړه خبرې کوي چې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړی استازی زلمي خلیلزاد د بین الافغاني مذاکراتو تر پیل مخکې، د خبرو لپاره قطر، پاکستان او ازبکستان ته سفر پیل کړی دی.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په یوه اعلامیه کې ویلي، چې خلیلزاد به په دغو هېوادونو کې پر دې ټینګار کوي چې د بین الافغاني مذاکراتو تر پیل کېدو مخکې باید پاتې ژمنې هم عملي شي چې د تاوتریخوالي کمول او په وخت سره د بندیانو پرېښودل یې مهمې برخې دي، خو د حزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار بیا په کابل کې د یوې خبرې غونډې پر مهال د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې له هوکړې وروسته، د جګړې پر شدت نیوکه وکړه. حکمتیار زیاته کړه، نه یوازې دا چې د سولې لپاره لازمې هڅې نه دي شوي، بلکې ورانکاره فعالیتونه زیات شوي دي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۲۰ |
| € | ۸۵,۵۰ |
| Rp. | ٤٦٣ |
| ₹ | ۹۸۵ |
| ¥ | ۹,۸۰ |
| £ | ۹۳,۵۰ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com

0202502100 / 0777989696

www.maseerdaily.af

Maseer Daily

MaseerDaily

# Maseer Daily
New Vision, New Journey



غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com



سه شنبه د ۱۳۹۹ د چنګاښ لسمه | د ۲۰۲۰ د جون دیرشمه | ۵۵۹مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۳ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳۵ | ۲۹ |
| ۱۷ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۹ | لمر ختل ۰٤:٤۳ | ماسپښین ۱۱:۵۸ | مازیګر ۰۳:٤٤ | ماښام ۰۷:۱۱ | ماخوستن ۰۸:۵٦

## نړۍ




## راپورونه: هند له پاکستان غوښتي چې د ممبی د بريدونو اصلي طراح ور وسپاري



د راپورونو له مخې، هند له پاکستانه غوښتي چې د ممبی د بريدونو اصلي طراح ساجد مير ور وسپاري.

دا په داسې حال کې ده چې د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ويلي چې ساجد مير په ۲۰۰۸ ز کال کې د ممبی بريد د پروژې مديريت پر غاړه درلود. نوی ډيلی دا غوښتنه داسې مهال کوي چې تېره اونۍ امريکا ويل چې د ممبی د بريدونو دغه طراح په پاکستان کې ازادانه ژوند کوي.

هند او امريکا دواړو ويلي چې د ممبی د بريدونو طراح په پاکستان کې د فعالې لشکر طيبه وسله والې ډلی لوړ پوړی غړی ساجد مير دی. په ۲۰۰۸ ز کال کې په شويو دغو دريو ورځنيو بريدونو کې چې موخه يې څو هوټلونه، د ريل يو سټېشن او په ممبی کې د يهودانو يو مرکز و، د شپږو امريکايانو په ګډون ۱٦٦ تنه ووژل شول.

د ترهګرۍ په اړه د امريکا د بهرنيو چارو وزارت په يوه راپور کې راغلي، پاکستان تېر کال د لشکر طيبه د بنسټ ايښودونکي حافظ سعيد پر ضد اقدام وکړ، خو په راپور کې نيوکه شوې چې پاکستان د دغې ډلې يوشمېر مشرانو ته پناه ځای ورکړی چې يو په کې ساجد مير دی.


د دغه راپور پر بنسټ ساجد مير پر ممبی د بريدونو د پروژې مدير و، خو اوس هم په پاکستان کې ازاد ژوند لري. د هند يوه چارواکي ويلي، حکومت يې په وار وار له پاکستانه غوښتي چې د ممبی د بريدونو طراح ساجد مير ور وسپاري، خو پاکستان بيا پرځان لګېدلي دا تورونه رد کړي دي.

## تازه شمېرې: په ټوله نړۍ کې د کرونا ويروس مثبتې پېښې له ۱۰.۳۲ ميليونو واوښتې

د تازه شمېرو له مخې، په ټوله نړۍ کې پر کرونا ويروس د اخته کسانو شمېر له ۱۰.۳۲ ميليونو کسانو اوښتی دی. دغه راز په د ياد ويروس له کبله تر دې دمه ۵۰٦ زره او ٦۸ کسان مړه شوي او نږدې شپږ ميليونه نور بېرته رغېدلي دي. په ورته وخت کې د امريکا په ځينو ايالتونو کې د کروناويروس د دويمې څپې له کبله بيا سمندرغاړې او شرابخانې تړل شوې دي. فلوريډا، کالفورنيا او اريزونا هغه ايالتونه دي چې د کرنتين د محدوديتونو له لرې کېدو وروسته پکې د کرونا پېښې زياتې شوې دي. د فلوريډا والي ران ډې سنټېز د بيچونو(سمندرغاړو) د بيا تړلو اعلان کړی دی. هغه ځوانان تورن کړل چې مېلې او تماشې کوي، ماسک نه تړي او د يو بل تر منځ فاصله هم نه ساتي چې له کبله يې د کروناويروس پېښې بيا زياتې شوي دي. په ورته وخت کې د ټکزاس په ايالت کې هم بارونه تړل شوي دي او والي ګرېګ اباټ وايي: «د کروناويروس په تېرو څو اونيو کې ډېر چټک او ډېر خطرناک را وګرځېده.» د کالفورنيا والي ګاوين نيوزم هم په اوو ولسواليو کې شرابخانې تړلې او اتو نورو ته يې هم ويلي دي چې ويې تړي.

د واشنګټن والي جای انسلي په خپل ايالت کې د کرنتين د محدوديتونو د لرې کولو څلورم پړاو ځنډولی دی. په دغه ايالت کې تېره اونۍ ۳۱۸۰ کسان د کرونا په ويروس اخته شوي وو.

## میک: افغانها درسال ۲۰۱۸ نزدیک به دو میلیارد دالر رشوت داده‌اند




یافته‌های اخیر کمیته نظارت وارزیابی مبارزه با فساد اداری(میک) که دربارۀ گمرک‌ها و نهادهای مالیه گیری پخش شده است، نشان میدهد که در سال ۲۰۱۸ میلادی شهروندان یک میلیارد و شش صدو پنجاه میلیون دالر به نهادهای دولتی رشوه داده اند درحالیکه در این سال در آمدهای ملی کشور در حدود دونیم میلیارد دالر رسیده است و به این حساب، افغانان درسال ۲۰۱۸میلادی نزدیک به کُل درآمدهای ملی، درنهادهای دولتی رشوه داده‌اند. در یافته‌های این کمیته، دربخش گمرک‌ها و مالیات کشور آسیب پذیری‌های بزرگی وجود دارند. در همین حال، مسؤلان دیده بان شفافیت می‌گویند که ارزش رشوه‌های سالانه در افغانستان به دومیلیارد دالر میرسد. چیزی کمتراز تمام درآمدهای سالانه ملی کشور. میوند روحانی، رئیس دبیرخانه کمیته نظارت و ارزیابی مبارزه با فساد اداری می‌گوید: «به اساس گزارش ۲۰۱۸ دیدبان شفافیت درتمام افغانستان یک عشاریه شش پنج میلیارد دالررشوه داده شده اندکه این رقم مخصوص گمرک‌ها نمیباشد.» دیده بان شفافیت اندازه رشوه سالانه را درکشور در حدود دومیلیارد دالر می گوید و می‌افزاید که سالانه در حدود یک میلیارد دالردر گمرک‌ها حیف ومیل میشود.

ناصر تیموری، محقق دیدبان شفافیت افغانستان میگوید که: «درحدود دومیلیارد دالر ازمردم رشوه گرفته میشود واین شامل فساد کلان که درتدارکات است ویا دربخش غصب جایدادها نیست.»

زلمی عظیمی، معاون اتاق تجارت وسرمایه گذاری ننگرهار می‌گوید که :»یک فرد به پنج صد هزاردالر به مدیریت مقرر میشود ویا ازسوی مافیا مقرر میشود معلوم دار است که این شخص به جیب خود کارمیکند ودر آمدهای ملی را میدزدد.»

## ژوند

## د خلاقيت لپاره مثبت چاپېريال حتمي دی



کېدای شي هغه چاپېريال چې تاسو پکې ژوند کوی، چنداني انګېزه ښونکی نه وي؛ خو بې له شکه چې داسې کسان او وسايل شته چې تاسو ته انګېزه درکړي. الهام ښونکي کتابونه او د تکړه ليکوالو اثار ولولئ، د لويو استادانو شاګردي وکړئ، لوی مراسم لکه «اسکار» وګورئ چې په هغه کې لويو لويو کسانو ته جايزې ورکول کېږي. که موخه لرونکي او خلاق و اوسی، لرې نه ده چې يوه ورځ به د نړۍ تر ټولو پر مشهور کس بدل شی. د خلاقيت په چانس سره تاسو د ژوند لوړو څوکو ته ختلی شی. هڅه وکړئ چې ځان داسې ځای ته ورسوی چې لايق يې ياستی. ستاسو ذهني خلاقيت هغه وخت ګل کوي چې ستاسو لپاره يوه مثبته فضا برابره وي. هڅه وکړئ چې ځان ته روحيه ورکړئ، که په کوم کار کې برياليي شوی، ځان مو وستايئ او که برياليي نه شوی، ځان ته ډاډ ورکړئ چې نورې لارې چارې هم شته.

## زعفران بدني ستړيا له منځه وړي



پر زعفرانو وروستيو تر سره شوو څېړنو ښودلې چې زعفران د ستړيا او خپګان د له منځه وړلو خاصيت لري، له دې مخکې هم په سنتي طب کې زعفرانو ته خوشالوونکی او خوښۍ راوړونکی نوم کارول شوی دی. د څېړنو پايلو ښودلې چې په ورځني ډول بايد له زعفرانو په خوړو کې ګټه واخيستل شي او يا هم يوه پياله د زعفرانو چای وڅښل شي؛ ځکه عصاب پياوړي کوي. زعفران د الزايمر او پارکيسون ناروغيو مخه نيسي او تمرکز قوي کوي. که عصبي دردونه لری او يا هم له بې خوبۍ ځورېږی، نو زعفران يې اصلي درمل دي. کله چې انسان زړېږي نو په تدريجي ډول يې د ليد حس هم کمزوری کېږي، خو نوو څېړنو ثابته کړې چې زعفران کولای شي هغه سلولونه له سره ترميم او بيا ژوندي کړي چې د ليدو په حس کې مرسته کوي. دغه راز زعفران هغه قهويي ټکي او خالونه هم له منځه وړي چې د عمر خوړلو کسان د لاس په پوستکي کې پيدا کېږي.


عزيزي بانک
Azizi Bank

ماسټر ډبټ کارټ

د عزيزي بانک ماسټر ډبټ کارټ له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتياوو او شرايطو سره سم ډيزاين شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پيسو ته لاسرسی لرلی شئ.

- په ټوله نړۍ کې له 25 ميليون ډېرو سوداګريزو مرکزونو/پلورنځيونو کې د منل کېدو وړتيا لري.
- د دې لپاره چې ژر پيسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشينونو ګټه اخيستلی شئ.



1515 www.azizibank.af